# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ٦مه ګڼه | پرله‌پسې ٦٨مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۲/۱۷



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د ترانسپورټ سکتور ډیجیټلي کېدل او د شفافیت نوې مرحله

۲- د کندهار صادرات او د چین د پانګونې نوي فرصتونه

۳- د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د درملو همکاري او د روغتیایي سکتور پراختیا

# د ټرانسپورټ سکتور ډیجیټلي کېدل او د شفافیت نوې مرحله



په افغانستان کې د ټرانسپورټ سکتور د اصلاح او عصري کېدو بهير ورو ورو له دوديز حالته برېښنايي سيستمونو ته د انتقال په حال کې دی. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د معلوماتو له مخې، تر دې مهاله د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو د نوبت، احصايي او عوايدو په برېښنايي سيستمونو کې له ۱۰۷ زرو ډېر موټر ثبت شوي دي. دا پرمختګ د هېواد د ټرانسپورټ د مديريت په برخه کې د اساسي بدلون ځرګندونه کوي. د معلوماتو پر بنسټ، نږدې ۶۹ زره باروړونکي موټر د نوبت په سيستم کې شامل شوي دي. دا سيستم د باروړونکو وسايطو له پاره د نوبت عادلانه وېش تضمينوي، د واسطو او غير رسمي کړنو مخه نيسي او د موټر چلونکو عوايد منظموي. له بلې خوا، څه باندې ۳۸ زره مسافروړونکي موټر د احصايي او عوايدو په برېښنايي سيستمونو کې ثبت شوي چې د ښاري او ولايتي ټرانسپورټ د منظمېدو له پاره مهم ګام ګڼل کېږي. د ټرانسپورټ سکتور برېښنايي کېدل څو مهمې اقتصادي پايلې لري. د عوايدو راټولونه شفافېږي او مالي سرچينې پياوړې کېږي. د خدماتو کيفيت لوړېږي، ځکه چې برېښنايي سيستمونه د معلوماتو دقيق ثبت او څارنه ممکنوي او د فساد او غير رسمي فعاليتونو احتمال کمېږي. ټرانسپورټ سکتور منظمېدل د سوداګرۍ او لوژستيک له پاره حياتي ارزښت لري. کله چې د بار وړونکو موټرو حرکت منظم او شفاف شي، د توکو لېږد ګړندی او لګښتونه کمېږي. دا بدلون په مستقيم ډول د بازار ثبات، د بيو کنټرول او د سوداګرۍ د اسانتيا لامل کېږي. د ټرانسپورټ د برېښنايي سيستمونو پراختيا د اقتصاد د عصري کېدو يوه مهمه نښه ده. که دا بهير دوام ومومي او نورو اړوندو برخو ته هم وغځېږي، تمه کېږي چې د هېواد د لوژستيک او سوداګرۍ سکتور به په لنډه موده کې د پام وړ وده تجربه کړي.

# د کندهار صادرات او د چین د پانګونې نوي فرصتونه



کندهار د هېواد له مهمو سوداګريزو او کرنيزو مرکزونو شمېرل کېږي. وروستي پرمختګونه ښيي چې دغه ولايت د نړيوالو بازارونو د جلبولو په برخه کې نوي پړاو ته داخل شوی دی. د کندهار د سوداګرۍ او پانګونې خونې اعلان کړی چې د چين د درېيو ولايتونو له سوداګريزو مرکزونو سره يې د صادراتو او ګډو همکاريو هوکړه ليکونه لاسليک کړي دي. دا هوکړه ليکونه د وچې او تازه مېوې، طبي بوټو او کاني توکو د صادراتو پر پراختيا تمرکز لري. د چين بازار د نړۍ له سترو مصرفي بازارونو څخه دی او د

افغانستان له پاره دې بازار ته لاسرسی ستر اقتصادي فرصت ګڼل کېږي. په افغانستان کې د وچې مېوې او کانونو په برخه کې چینايي پانګوالو لېوالتیا څرګنده کړې ده. افغانستان د وچې مېوې له پلوه تاریخي شهرت لري او په دې برخه کې هم د پانګونې ډېر فرصتونه شته دي. د کانونو سکتور هم د افغانستان له مهمو اقتصادي سرچینو څخه دی. په دې سکتور کې د نړیوالو پانګوالو لېوالتیا د دې ښکارندويي کوي چې د افغانستان طبیعي سرچینې لا هم د نړیوال اقتصاد پام ځان ته رااروي. د پانګونې دا ډول بهیر نه یوازې صادرات زیاتوي، بلکې د کارموندنې، د ټکنالوژۍ د انتقال او په ټوله کې د افغانستان د ودې لامل هم ګرځي. د سیمې له هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو پراختیا د اقتصاد له پاره حیاتي ارزښت لري. که دا هوکړه لیکونه په عملي پروژو بدل شي، نو کندهار کولی شي د صادراتو په یوه مهم مرکز بدل شي. د افغانستان اسلامي امارت د خپلې اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ د سیمې او نړۍ له ټولو هېوادونو سره مثبتې او د اقتصادي همکاریو په چوکاټ کې اړیکې غواړي او د دې اړیکو پراختیا له پاره دوامداره هڅې کوي.

## د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د درملو همکاري او د روغتیایي سکتور پراختیا

د افغانستان د روغتیایي سکتور د پیاوړتیا له پاره سیمه ییزې همکارۍ ورځ تر بلې زیاتېږي. د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال مولوي حمدالله زاهد د ازبکستان د مرستیال سفیر جمشید بدلوف او د درملو جوړولو ازبکستاني شرکتونو له پلاوي سره ناسته کړې، چې په کې د درملو د صادراتو او تولید په پراختیا مهم بحثونه شوي دي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، افغانستان ته به له ازبیکستانه د درملو صادرات پیل شي. دا پرمختګ د افغانستان د روغتیایي سکتور له پاره مهم دی، ځکه چې د افغانستان په څېر هېواد له پاره له بهره د درملو منظم واردات د کورني بازار د ثبات لامل ګرځي. په دې ناسته کې د بهرنیو شرکتونو د ثبت بهیر کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په اړه هم بحث شوی. د درملو او روغتیا سکتور د هغو سکتورونو له ډلې دي چې اقتصادي او ټولنیز اهمیت لري. د درملو صنعت پراختیا د کارموندنې، د ټکنالوژۍ انتقال او د صنعتي بنسټونو د پیاوړتیا لامل ګرځي. دغه راز، باکیفیته درملو ته د هېوادوالو لاسرسی د ژوند کیفیت لوړوي او د ډېرو هېوادوالو ژوند ژغورل کېږي. د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د درملو په برخه کې همکاري د افغانستان د اقتصاد او روغتیا له پاره مهمه ده. که دا بهیر دوام ومومي، نو تمه ده چې افغانستان به په لنډه موده کې د درملو د تولید او عرضې په برخه کې د پام وړ پرمختګ وکړي او د درملو سکتور به ځینو برخو کې به په بهرنیو هېوادونو له تکیې خلاص او ځان بسیاینې ته به ورسېږي.

